د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت
د مدني حقوقو څانګه

د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت
د مدنې حقونو دفتر

اګست 2021

# د تبعیض سره د ملي اصل او کډوالۍ وضعیت پر بنسټ مبارزه

## د کورنیو او روزونکو لپاره سرچینه

دولتي ښوونځي باید د ټولو زده کوونکو لپاره خلاص وي، خو ځینې وختونه زده کونکي د خپل ملي اصلیت یا کډوالۍ وضعیت له امله د تبیعض سره مخامخ کیږي. د تبعیض دا ډولونه ښوونې او روزنې ته د زده کوونکو لاسرسی محدودي او دا د قانون خلاف عمل دی.

په متحده ایالاتو کې ټول ماشومان په لومړنیو او ثانوي ښوونځیو کې پرته د هغوی د والدینو او سرپرستانو د کډوالۍ وضعیت ته په پام کولو سره د نوم لیکنې او برخې اخیستنې مساوي حق لري.

### لاندې هغه څه دي چې تاسو یې پوهې ته اړتیا لرئ:

1 **د کډوالۍ د وضعیت پربنسټ، دولتي ښوونځی د کوم ماشوم لپاره د ښوونې او روزنې حق ممکن رد نه کړي.** د ولسوالیو لپاره دا د فدرالي قانون څخه سرغړونه ده، چې په دولتي ښوونځیو کې د ماشومانو د داخلیدو څخه مخنیوی وکړي یا یې زړه تور کړي، پر دې اساس چې ماشومان یا د هغوی والدین یا سرپرستان د متحده ایالاتو اتباع نه دي یا د کډوالۍ اسناد نه لري.

2 **دولتي ښوونځي باید د هغو ټولو زده کوونکو لپاره چې په انګلیسۍ کې محدود مهارت لري، د ژبې مرستندویه خدمات وړاندې کړي** او دا زده کوونکي د انګلیسي د زده کونکو په توګه وپېژنئ ترڅو ټول زده کوونکي کولی شي په معني توګه په ټولو ښوونې او روزنې برنامو کې برخه واخلي.

3 **دولتي ښوونځي باید د داخلې، ټولګیو، او نورو ښوونې او روزنې او فعالیتونو په اړه معلومات** په داسی **یوه ژبه کی ټولو والدېنو، سرپرستانو او سپانسرکوونکو ته وړاندې کړي حی هغوی پرې پوهېږي. ښوونحی کولی سی دا د معلوماتو د ژباړلو یا د وړ ترجمانانو د ګمارلو له لارې ترسره کړي.**




کله چې دولتي ښوونځي ښوونې او روزنې ته مساوي لاسرسی د ملي اصل یا د کډوالۍ وضعیت له امله ردوي، د متحده ایالاتو د عدلیې په وزارت کې د تعلیمي فرصتونو څانګه (CRT) او د متحده ایالاتو د پوهنې په وزارت کې د مدني حقونو دفتر (OCR) د دې په اړه د فدرالي قوانینو د پلي کولو له لارې مرسته کولی شي کوم چې زده کوونکي له تبعیض څخه خوندي ساتي. د تعلیمي فرصتونو څانګه (CRT) او د مدني حقونو دفتر (OCR) به له والدېنو، سرپرستانو او ماشومانو څخه د هغوی د کډوالۍ د وضعیت په اړه پوښتنه ونه کړي.

د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت
د مدني حقوقو څانګه

د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت
د مدني حقوقو دفتر

# د پیښو د ډولونو مثالونه ممکن د CRT او OCR لخوا وڅیړل شي.

**د ښوونځي داخلې:**

د ښوونځي ولسوالۍ له والدینو څخه غواړي چې ووایي، چې ایا دوی یا د دوی ماشومان د متحده ایالاتو اتباع دي چې خپل ماشومان په ښوونځي کې داخل کړي. ولسوالۍ هیڅ اسناد لکه د برق بل یا د اجارې قراردادونو نقلونه د تائیدي اسنادو په توګه نه مني، چې ماشوم د ولسوالۍ د حدودو په داخل کې اوسیږي.

د ورکتون نوی ماشوم په یو بل هېواد کې زیږدلی او د زیږون سند نه لري ښوونځی به ماشوم ته داخله ورنکړي او نه به نور اسناد، لکه دیني یا د روغتون اسناد د ماشوم د زیږون د نیټې سره ومني، کوم چې ښایي چې ولسوالۍ د ماشوم د عمر اړتیاوې پوره کوي.

د ولسوالۍ ښوونځي د شمولیت فورمه "د ټولنیز امنیت کارت" د یو اړین سند په توګه لیست کوي. کله چې د یو نوي زده کونکي والدیند ښوونځي دفتر څخه لیدنه کوي، نو دوی ته ویل کیږي، چې دوی د ماشوم ثبتونې دمخه د ماشوم د امنیت شمیرې چمتو کولو ته اړتیا لري.

سرپرست د دولتي ښوونځیو په فورمو کې د ماشوم نسل یا قومیت نه لیکي. د ښوونځي چارواکي، سرپرست ته وایي، چې فورمه نیمکړي ده او ماشوم نشي داخلیدې.

**د انګلیسي ژبې زده کونکي او د شووني او روزنې برنامې:**

د ښوونځي د داخلي پرمهال، د ولسوالۍ ښوونځی د هغو کورنیو سروی نه کوي څوک چې د ژبو په اړه ولسوالۍ ته نوي دي چې دوی یې په کور کې وایئ او د داخلې معلومات یوازې په انګلیسۍ کې وړاندې کوي.

د ښوونځي چارواکي د معلولیت لرونکي انګلیسي زده کونکي والدین ته واي، چې د مهالویش د شخړو له امله، ښوونځی زده کوونکې ته د ژبې مرسته او د معلولیت خدمات دواړه په یو وخت کې نشي وړاندي کولې.

د ښوونځي ولسوالۍ موروپلار ته د خپل وړیا تعلیمي پروګرام په اړه په انګلیسۍ کې معلومات ورکوي، مګر د هغو والدینو لپاره چې په انګلیسۍ کې محدود مهارت لري معلومات نه ترجمه کوي یا نه ژباړي.

## ایا څه به وي، که چیرې یو ماشوم په دولتي ښوونځي کې د داخلي یا برخې اخیستنې پرمهال، د کډوالۍ وضعیت یا د انګلیسي ژبې زده کونکي له امله له تبعیض سره مخ شي.

تاسو ممکن CRT یا OCR سره اړیکه ونیسئ، که چیرې:

- تاسو باور لرئ چې د ولسوالۍ ښوونځی هڅه کوي، چې تاسو یا بل څوک چې تاسو یې پیژنئ چې ماشوم د ملي اصل یا کډوالۍ وضعیت له امله په ښوونځي کې له داخلې څخه منع کوي. فدرالي قانون د ټولو زده کوونکو لپاره عامه لومړنی او ثانوي ښوونځیو ته مساوي لاسرسی ته اړتیا لري، د هغو زده کوونکو په شمول چې د متحده ایالاتو اتباع نه دي.
- تاسو باور لرئ چې د ښوونځي ولسوالۍ ستاسو ماشوم یا بل چا ته چې تاسې یې پیژنئ د هغې ژبې خدمات نه وړاندې کوي چې دوی ورته اړتیا لري. فدرالي قانون د ولسوالیو ښوونځي څخه غوښتنه کوي او د انګلیسي ژبې زده کونکي وپیژني او دوی ته د ژبې خدمات ورکړي ترڅو دوی په معني توګه په ښووني او روزنې برنامو کې برخه واخلي.

که چیرې تاسوله ښوونځي سره اړیکه نیولې وې او ستاسو د اندیښنو په حل کولو کې یې ګامونه ندي پورتهکړي یا تاسو د ښوونځي سره د خپلو اندیښنو په راپورته کولو کې د راحت احساس نه کوئ، نو تاسو کولی شئ چې د متحده ایالاتو د عدلیې په وزارات کې د مدني حقونو د څانګې سره خپل شکایت له **civilrights.justice.gov** سره، یا د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت د مدني حقونو له دفتر سره په **www.ed.gov/ocr/complaintintro.html** درج کړئ (په انګلیسۍ د شکایت د درج کولو لپاره) یا **www.ed.gov/ocr/docs/howto.html** (د انګلیسۍ پرته په بله ژبه کې شکایت درج کولو لپاره).

د نورو معلوماتو لپاره، لطفاً دا اضافي سرچینې وګورئ:

- دحقایو پاڼه : په ښوونځي کې د ټولو ماشومانو د داخلې د حقونو په اړه معلومات
- حقایق پاڼه: ددا ډاډمن کول چېانګلیسي ژبې زده کونکي په معني ډول او مساوي توګه په ښووني او روزنې برنامو کې برخه اخیستلې شي